**د پرانیستې نوم لېکنې لارښود: څنګه د ژوند اختیاري بیمې کې نوم لیکنه یا بدلون راولو (موبایل اپلیکیشن)**

---

**د پرانیستې نوملیکنې ته لاسرسی وموميئ**

1. د **Workday** ته ننوځئ
2. د **نوم لیکنې پرانیستې موده** دنده وټاکئ یا د نوم لیکنې پرانیستې مودې په بینر کلیک وکړئ.
3. **پیل وکړئ** باندې کلیک وکړئ

---

**د کارکوونکو د ژوند اختیاري بیمې کې نوم لیکنه یا بدلون راوستل**

1. د **اختیاري کارکوونکي د ژوند بیمې** برخې ته ورشئ.
2. پر **نوم لیکنه یا مدیریت** کلیک کړئ
3. د Unum پلان وټاکئ او د پوښښ لپاره پر **وټاکئ** کلیک وکړئ. د پوښښ د ردولو لپاره، **پوښښ څخه تېر شئ** وټاکئ، بیا پر **بشپړ شو** کلک وکړئ
4. په لاندې برخه کې **تایی**د او **دوام** باندې کلک وکړئ.
5. د خپلې خوښې د **پوښښ** اندازه وټاکئ.
6. د خپل ګټه اخیستونکي ټاکنه **وڅېړئ** یا نوی ګټه اخیستونکی **اضافه** کړئ.
7. په **خوندي** کلیک وکړئ

**مهم:** د پرانیستې نوملیکنې پر مهال د اختیاري ژوند بیمې هره ټاکنه د بیمې وړتیا ثبوت (EOI) ته اړتیا لري. که تاسو د خپلې مېرمنې/خاوند لپاره د اختیاري ژوند بیمې پوښښ وټاکئ یا یې بدل کړئ، باید اړین د بیمې وړتیا ثبوت (EOI) بشپړ کړئ. پوښښ تر هغه وخته اغېزمن نه دی چې د EOI پروسه بشپړه او د Unum لخوا تایید نه شي. د دې پروسې د بشپړولو لپاره به تاسو ته په Workday کې یوه دنده دروسپارل شي.

---

**د خپلې مېرمن/خاوند د اختیاري ژوند بیمه کې نوم لیکنه یا سمون کول**

1. د **د مېرمن/خاوند اختیاري ژوند بیمه** برخه وټاکئ.
2. پر **نوم لیکنه** یا **مدیریت** کلیک کړئ
3. د **Unum پلان** وټاکئ او د پوښښ لپاره پر **وټاکئ** کلیک وکړئ. د پوښښ د ردولو لپاره، **پوښښ څخه تېر شئ** وټاکئ، بیا پر **بشپړ شو** کلک وکړئ
4. په لاندې برخه کې **تایید او دوام** باندې کلک وکړئ.
5. خپل د خوښې وړ **پوښښ اندازه** وټاکئ، خپله مېرمن/خاوند وټاکئ او **ټاکل** کلیک کړئ، یا
6. که ستاسو مېرمن/خاوند په لېست کې نه وي، پر **نوي تا پور انحصار کس اضافه کړئ** کلیک وکړئ، بیا **بل** وټاکئ.
7. د خپلې مېرمن/خاوند معلومات دننه کړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د هغوی د ټولنیز امنیت شمېره په سمه توګه داخله شوې ده.
8. په **خوندي** کلیک وکړئ

**مهم:** د پرانیستې نوملیکنې پر مهال د اختیاري ژوند بیمې هره ټاکنه د بیمې وړتیا ثبوت (EOI) ته اړتیا لري. که تاسو د خپلې مېرمنې/خاوند لپاره د اختیاري ژوند بیمې پوښښ وټاکئ یا یې بدل کړئ، باید اړین د بیمې وړتیا ثبوت (EOI) بشپړ کړئ. پوښښ تر هغه

وخته اغېزمن نه دی چې د EOI پروسه بشپړه او د Unum لخوا تایید نه شي. د دې پروسې د بشپړولو لپاره به تاسو ته په Workday کې یوه دنده دروسپارل شي.

---

**د ماشوم د اختیاري ژوند بیمې کې نوم لیکنه یا بدلون راوستل**

1. د **ماشوم اختیاري ژوند بیمې** برخه وټاکئ.
2. پر **نوم لیکنه** یا **مدیریت** کلیک کړئ
3. د **Unum پلان** وټاکئ او د پوښښ لپاره پر **وټاکئ** کلیک وکړئ. د پوښښ د ردولو لپاره، **پوښښ څخه تېر شئ** وټاکئ، بیا پر **بشپړ شو** کلک وکړئ
4. په لاندې برخه کې **تایید او دوام** باندې کلک وکړئ.
5. خپل د خوښې وړ **پوښښ اندازه** وټاکئ، خپل ماشوم یا ماشومان وټاکئ او **ټاکل** کلیک کړئ. ہا
6. که ستاسو ماشوم (ماشومان) په لیست کې نه وي، **نوی انحصار کونکی اضافه** کړئ باندې کلیک وکړئ، بیا **بل** غوره کړئ
7. د خپل ماشوم (ماشومان) معلومات دننه کړئ او تایید کړئ چې د دوی د ټولنیز امنیت شمیره په سمه توګه داخل شوې ده
8. په **خوندي** کلیک وکړئ

---

**کتنه او لاسلیک**

1. خپل ټول د ګټو انتخابونه په دقت سره وڅېړئ
2. تایید کړئ چې معلومات سم دي
3. د پرانیستې نوم لیکنې د بشپړولو لپاره **زه منم** او **وسپارئ** کلیک کړئ.
4. که تاسو **وسپارئ** باندې کلیک ونه کړئ، ستاسو د 2026 کال د ګټو پلان انتخابونه به 2027 کال ته انتقال شي، پرته له د روغتیايي سپما حسابونه (HSA) وندو څخه، چې د 2026 کال د دسمبر په 31 پای ته رسېږي

---

**د بیمه پذیرۍ د ثبوت (EOI) بیاکتنه**

- د پرانیستې نوملیکنې پر مهال د اختیاري ژوند بیمې ټول انتخابونه د بیمه‌پذیرۍ د ثبوت (EOI) بیاکتنې او د Unum له خوا د منظورۍ تابع دي.
- د بیمه‌پذیرۍ ثبوت (EOI) اړین دی. د EOI د بشپړولو لپاره به تاسو ته په Workday کې یوه دنده دروسپارل شي.
- تاسو باید د بیمه‌پذیرۍ د ثبوت (EOI) غوښتنلیک په مستقیم ډول د Unum له لارې بشپړ او وسپارئ.
- که د بیمه‌پذیرۍ د ثبوت (EOI) غوښتنلیک بشپړ نه شي یا د Unum له خوا رد شي، نو د غوښتل شوي پوښښ منظوري به ورنه کړل شي.

---

**پادونه:** د مېرمن/خاوند د اختیاري ژوند بیمې او د ماشوم د اختیاري ژوند بیمې د پوښښ لپاره، تاسو په اوتومات ډول د ګټې اخیستونکي په توګه ټاکل کېږئ. کله چې تاسو د پرانیستې نوملیکنې خپل انتخابونه وسپارئ، د تایید یو پیغام به څرګند شي چې یکې به ویل شوي وي چې ستاسو انتخابونه په بریالیتوب سره سپارل شوي دي.

**د پرانيستي نوم لېکنې لارښود: د جدي ناروغۍ بيمه (موبايل اپليکيشن)**

**د ناروغۍ بيمې کې نوم ليکنه کول**

د جدي ناروغۍ بيمه هغه وخت يو ځلنی مبلغ درکوي چې تاسو ته د پوښښ لاندې جدي ناروغۍ تشخيص شي. مخکې له دې چې خپله ټاکنه وکړئ، په پای کې لست شوي د پلان جزئيات په دقت سره وګورئ.

---

**د پرانيستي نوم‌ليکنې ته لاسرسی ومومئ**

1. د **Workday** ته ننوځئ
2. د خپل Workday له انبکس يا کورپاڼې څخه د **پرانيستي نوم‌ليکنې** دنده پرانيزئ
3. **پيل وکړئ** باندې کليک وکړئ

---

**د کارکوونکي لپاره د جدي ناروغۍ په بيمه کې نوم ليکنه وکړئ**

1. د **د کارکوونکي د جدي ناروغۍ بيمه** برخې ته لاړ شئ.
2. پر **نوم ليکنه** يا **مديريت** کليک کړئ
3. د Unum پلان وټاکئ او د پوښښ لپاره پر **وټاکئ** کليک وکړئ. د پوښښ د ردولو لپاره، **پوښښ څخه ټېر شئ** وټاکئ، بيا پر **بشپړ شو** کلک وکړئ
4. **تاييد غوره کړئ او ادامه ورکړئ**
5. په **خوندي** کليک وکړئ

---

**د مېرمن/خاوند لپاره د جدي ناروغۍ په بيمه کې نوم ليکنه وکړئ يا بدلون ورکړئ** - په ياد ولرئ، ستاسو مېرمن/خاوند يوازې د هغه پوښښ د اندازې 50٪ ټاکلی شي چې تاسو ټاکلی وي.

که د خپلې مېرمنې/خاوند لپاره د بيمې پوښښ کې نوم ليکنه کوئ يا پکې بدلون راولئ:

1. د **مېرمنې/خاوند د جدي ناروغۍ بيمې** برخې ته ورشئ.
2. پر **نوم ليکنه** يا **مديريت** کليک کړئ
3. د Unum پلان وټاکئ او د پوښښ لپاره پر **وټاکئ** کليک وکړئ. د پوښښ د ردولو لپاره، **پوښښ څخه ټېر شئ** وټاکئ، بيا پر **بشپړ شو** کلک وکړئ
4. **تاييد غوره کړئ او دوام ورکړئ.**
5. خپله مېرمن/خاوند وټاکئ او پر **خوندي** کليک وکړئ، يا
6. که ستاسو مېرمن/خاوند په لېست کې نه وي، پر **نوي تا پور انحصار کس اضافه کړئ** کليک وکړئ، بيا **بل** وټاکئ.
7. د خپلې مېرمنې/خاوند معلومات دننه کړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د ټولنيز امنيت شمېره يې په سمه توګه ليکل شوې ده.
8. په **خوندي** کليک وکړئ

---

**د ماشوم لپاره د جدي ناروغۍ په بيمه کې نوم ليکنه وکړئ يا بدلون پکې وکړئ. په ياد ولرئ،** ستاسو ماشوم يوازې د هغه پوښښ د اندازې 50٪ ټاکلی شي چې تاسو ټاکلی وي، او د ماشوم د پوښښ لپاره هېڅ لګښت نشته.

که د خپل ماشوم لپاره د بیمې په پوښښ کې نوم لیکنه کوئ یا یې بدلوئ:

1. د **ماشوم لپاره د جدي ناروغۍ بیمې** برخې ته ورشئ.
2. پر **نوم لیکنه** یا **مدیریت** کلیک کړئ
3. د Unum پلان وټاکئ او د پوښښ لپاره پر **وټاکئ** کلیک وکړئ. د پوښښ د ردولو لپاره، **پوښښ څخه تېر شئ** وټاکئ، بیا پر **بشپړ شو** کلک وکړئ
4. **تایید کلیک کړئ او ادامه ورکړئ**
5. خپل ماشوم(مان) غوره کړئ او **خوندي** باندی کلک وکړئ، یا
6. که ستاسو ماشوم په لېست کې نه وي، **پر نوی تړلې کس** اضافه کړئ کلیک وکړئ، بیا **بل** وټاکئ.
7. د خپل ماشوم معلومات داخل کړئ او تصدیق کړئ چې د دوی د ټولنیز امنیت شمیره په سمه توګه داخل شوی ده
8. په **خوندي** کلیک وکړئ

---

**کتنه او لاسلیک**

1. خپل ټول د ګټو انتخابونه په دقت سره وڅېړئ
2. تایید کړئ چې معلومات سم دي
3. د پرانیستې نوم لیکنې د بشپړولو لپاره **زه منم** او **وسپارئ** باندې کلیک وکړئ
4. که تاسو **وسپارې** باندې کلیک ونه کړئ، ستاسو د 2026 کال د ګټو پلان انتخابونه به 2027 کال ته انتقال شي، پرته له د روغتیایي سپما حسابونه (HSA) وندو څخه، چې د 2026 کال د ډسمبر په 31 پای ته رسېږي

---

**د جدي ناروغۍ د پلان جزیات**

د جدي ناروغۍ بیمه د پوښښ لاندې ناروغۍ له تشخیص وروسته، د پلان د شرایطو او مقرراتو له مخې، یو ځلنی مبلغ ورکوي. د پوښښ اختیارونه له $10,000 څخه تر $30,000 پورې شتون لري او د سرطان، د زړه حملې، فالج، د پښتورګو د ناکامۍ او ډېرو نورو پوښښ لاندې ناروغیو لپاره ګټې پکې شاملې دي.

سربېره پر دې، د پوښښ لاندې متکي ماشومان کېدای شي د ځینو ځانګړو د ماشومتوب ناروغیو لپاره د ګټو مستحق وي، چې پکې دماغي فلج، د شونډې یا تالو چاود، سیستیک فایبروسس، ډاون سنډروم او سپینا بیفیدا شامل دي.

د کلنۍ روغتیایي پاملرنې ګټه: 50 ډالر

---

- **د جدي ناروغۍ - کارکوونکی**

کله چې تاسو د ځان لپاره د جدي ناروغۍ بیمه وټاکئ، له ژوندي زېږون څخه تر 26 کلنۍ پورې په شرایطو برابر متکي ماشومان هم له کوم اضافي لګښت پرته تر پوښښ لاندې راتلای شي. د هر پوښښ لاندې ماشوم لپاره د بیمې اندازه ستاسو د ټاکل شوي پوښښ د اندازې 50٪ ده.

د شرایطو وړ ماشومانو د بیمې په پوښښ کې د شاملولو لپاره، باید د «ماشوم لپاره د جدي ناروغۍ بیمې» نوملیکنه بشپړه کړئ او هغه انحصار لرونکی ماشومان وټاکئ چې غواړئ تر پوښښ لاندې یې راولئ.

په شرایطو برابر ماشومان هغه خپل، ناسکه او منل شوي ماشومان دي چې:

- د کارمند قانوني انحصار لرونکي کسان دي
- لږ تر لږه 50 سلنه مالي مرسته له کارکوونکي څخه ترلاسه کوي.
- مجرد دی

- **د جدي ناروغۍ - مېرمن/خاوند**

تاسو کولی شئ د خپلې مېرمنې/خاوند لپاره د جدي ناروغۍ بیمه وټاکئ. د مېرمنې/خاوند د بیمې پوښښ ستاسو لپاره د ټاکل شوي پوښښ د اندازې تر 50٪ پورې محدود دی.

- **جدي ناروغۍ - ماشوم**

هغه وړ ماشوم انحصار لرونکي ماشومان چې له زېږون څخه تر 26 کلنۍ پورې عمر ولري، هغه مهال په وړیا توګه تر پوښښ لاندې راتلای شي چې تاسو د ځان لپاره د جدي ناروغۍ پوښښ وټاکئ او هغوی د «جدي ناروغۍ – ماشوم» په ګټه کې شامل کړئ.

د هر پوښښ لاندې ماشوم لپاره د بیمې اندازه ستاسو د ټاکل شوي پوښښ د اندازې 50٪ ده، او هغه د هماغو جدي ناروغیو پر وړاندې بیمه کېږي چې د کارکوونکي د بیمې په پوښښ کې شاملې دي. د ماشومتوب ځینې نورې ناروغۍ هم کېدای شي تر پوښښ لاندې راشي، چې پکې شاملې دي:

- سېرېبرل فالسي
- کلفټ لیپ یا پالټ
- سیسټک فایبروسیس
- ډاون سنډروم
- سپینا بیفیدا

پوښښ یوازې هغه وخت پلي کېږي چې د ماشوم ناروغي د پوښښ د پیل له نېټې وروسته تشخیص شي، او کېدای شي د مخکې څخه موجودو ناروغیو له امله پرې محدودیتونه ولګېږي.

په شرایطو برابر ماشومان هغه خپل، ناسکه او منل شوي ماشومان دي چې:

- د کارمند قانوني انحصار لرونکي کسان دي
- لږ تر لږه 50 سلنه مالي مرسته له کارکوونکي څخه ترلاسه کوي.
- مجرد دی

د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې پوښښ به درته برابر شي، تاسو باید د ماشوم لپاره د جدي ناروغۍ بیمې نوم لیکنه بشپړه کړئ او هغه انحصار لرونکي ماشومان وټاکئ چې غواړئ په پوښښ کې یې شامل کړئ.

---

که د جدي ناروغۍ د بیمې په اړه کومه پوښتنه لرئ یا د خپلو ګټو د پوهېدو لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د Unum د پېرودونکو خدمتونو له ځانګې سره په 1-800-635-5597 شمېره اړیکه ونیسئ.